مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه ولی ارین
۲۰۲۰/۰۶/۲۹

# د عملي سولې اړتیاوې او شرایط

## (لومړۍ برخه)

دا چې سوله د افغانانو یو عیني او حیاتي اړتیا ده، نو ځکه د صولې د عملي کولو له پاره لارې چارې لټول، مطرح کول او د ټولو افغانانو ورته رابلل، هغه څه دي چې د اوسني زمان او شرایطو غوښتنه ده.

تر هغه ځایه چې ولیدل شول، د سولې په روانو خبرو کې چې د امریکا استازی زلمی خلیلزاد او طالب مشرانو تر منځ حتا د توافقنامې د امضا تر کچې تر سره شول، نه دا چې کومې مثبتې پایلې یې د هیواد والو په برخه کړې وي، بلکې نور هم افغان وژنو زور وموند او هیواد وال یې له سترو غمیزو او اندیښنو سره مخ کړل.

ازموینو او په عمل کې وښودل شوه چې دغه هلې ځلې له پیله له تېروتنو سره تر سره شوې او لا هم له تېروتنو سره دوام لري.

زما په اند د دایمي او حقیقي سولې د عملي کېدو له پاره د لاندې فکتورونو عملي کول اړین وو او دي:

۱- په هیواد کې د یو قوي، با ثباته نظام او دولت موجودیت چې ټولو او یا اکثریت افغانانو ته د منلو وړ وي.
۲- د ټولو افغانانو ترمنځ ملي یووالي او د هیواد لوړو ګټو ته ژمنتیا.
۳- د سولې د پروسې په ټولو اړخونو کې د فاسدو اشخاصو د شتون مخنیوی.
۴- د هیواد په دننه کې د ملي اجماع له لارې د سولې د عملي کېدو له پاره واحد غږ او موضیعګري.
۵- سیمه ایزه اجماع او د ګاونډیو هیوادو د متقابله ګټو بیلانس او ورته پاملرنه.
۶- بین المللي اجماع د امریکا، روسیې، چین، جرمنی، انګلیس او هندوستان تر منځ د افغان دولت په موجودیت کې.
۷- د سولې له پروسې نه د ملګروملتونو، اسلامي کنفرانس او اروپایي اتحاد څارنه او ضمانت.
۸- د طالبانو د ډلو ټپلو او ګروپونو تر منځ د عمل او نظر یووالي.
۹- بې له قید او شرطه اوربند عملي کول.

تر څو چې پورتني فکتورونه د سولې په پروسه کې عملي نه شي، په هیواد کې د سولې روانه پروسه، هسې د وخت تیرول دی.

اړین یې بولم چې د سولې په پروسه کې د پورتنیو اړتیاوو د اهمیت په هکله لوستونکو ته لازم معلومات وړاندې کړم، ځکه چې زموږ د هیواد روانه جګړه، هغه نیابتي دردونکې جګړه ده چې پورتني فکتورونه په کې شامل او برخه لري.

په دې کې شک نه شته چې دغه جګړه د افغانانو تر منځ روانه ده، افغانان په کې وژل کیږي، خو د بیرون او بهر نه په افغانانو تپل شوې او همدغه بهرنیان یې اصلي عاملین هم دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د خواشنۍ خبره خو دا ده چې د جګړې په ټولو اړخونو کې افغانان وژل کېږي، د افغانانو هیواد ورانېږي، نو ځکه که طالب دی که حکومت دی، په دې باید و پوهېږی، چې دغه جګړه، چې ګټه یې یوازې بهرنیان وړي او بیه یې افغانان ورکوي، باید د خپل وجدان په حکم و دروي.

تر هغه ځایه چې لیدل کېږي د امریکا روانې هلې ځلې د سولې د پروسې په لار کې د پوښتنو وړ دي، ځکه چې له طالبانو سره د موافقتنامې، نه روڼتیا او همدا ډول دوه نور پټ قراردادونه یې روښانه بیلګه یادولې شو.

د افغان دولت سره د تفاهم او توافق پرته د طالبانو د ۵۰۰۰ بندیانو د خوشې کولو شرط د بین الافغاني مذاکراتو تر مخه بله هغه ستره تېروتنه وه چې طالبان یې برلاسي کړل او د اوربند شرائط یې تر اوسه ونه منل.

بله تیروتنه دا ده چې هیڅ ډول داسې ضمانت نه شته چې له زندان نه خوشې شوي طالبان دې بیرته د جګړې ډګر ته مخه ونه کړي.

زما په اند افغان دولت تر ډېره حده د طالبانو غوښتنې ترسره کړې دي، چې د درې زرو نه د زیاتو زندانیانو خوشې کول یې له نظره نه شو غورځولی، اما طالبانو تر اوسه هیڅ ډول نرمښت نه ده ښودلی، بلکې جګړه او د جګړې اور یې نور هم تېز کړی او هره ورځ په لسګونو بیګناه افغانان د دغې ناروا جګړې قربانیان دي.

تر هغه ځایه چې لیدل کېږي طالبان د پاکستان د دښمنیو نه ډکې هغه سناریو غواړي عملي کړي چې هدف یې په هیواد کې د یو ځواکمن او با ثباته نظام له منځه وړل او پر ځای یې ضعیف او د دوی د خوښې حکومت رامنځته کول دي.

کابل ته د باجوه وروستی سفر او په خبرو کې د مؤقت حکومت طرحه وړاندې کول، د نشئي توکو او وسلو د قاچاقبرانو او د لویو بریدونو د طراحانو خوشې کول او د بهرني سیاست د محدودیت شرطونه وړاندې کول؛ هغه څه دي چې پاکستان یو ځل بیا غواړي، چې د داکتر نجیب الله د وخت د سولې د ناکامیدو تراژیدي تکرار کړي.

د پاکستان یو بل ټینګار هم دا دی، که چېری د افغان دولت له لوري د مؤقت حکومت طرحه نه منل کېږي، نو کله چې د سولې خبرې پرمختګ کوي او یوې نتیجه ته د رسیدو په حالت کې وي، سم د لاسه دي ولسمشر غني استعفا وکړي او پاکستان ټینګار کوي، او د زلمی خلیلزاد سره یې هم په کتنو کې ټینګار کړی، تر څو چې یې افغان دولت غوښتنې ونه منې طالبان د خبرو میز ته نشي راوستلای، همدا علت هم دي، چې د باجوه تر بیرته ستنیدو وروسته د هیواد په ولایتونو کې جګړې زور اخیستی دی.

د قطر دفتر او کوټې شورا په تشکیلاتو کې وروستي بدلونونه او د سیاسیونو پر ځای د نظامي مهرو رامخکې کول ټول د همدې له پاره دي چې له نظامي لارې افغان حکومت تر فشار لاندې راولي.

یو بل مطلب چې د سولې پروسه ګواښمنه کوي او د جګړې د دوام نښې نښانې دي، هغه د کوټې په شورا او د قطر په سیاسي دفتر او تشکیلاتو کې بدلونونه او د سیاسي کسانو پر ځای د نظامي مهرو ځای پر ځای کول دی.

پورتني لاملونه دا په ګوته کوي چې طالبان د پاکستان له دیکټې پرته د مستقل عمل صلاحیت نه لري، همدا علت هم دی چې اور کم او یا اوربند ته غاړه نه شي ایښودلای.

د سولې دښمنانو ټل کوښښ کړی چې د سولې پروسه له ګواښ سره مخ کړي، د هغو ځارنوالانو وژل چې د طالب بندیانو د خوشې کولو چارې یې پر مخ وړلې هم هغه څه دي چې د سولې په لار کې خنډونه او اندیښنې رامنځته کولای شي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ